مزدور اوبادار

يومزدوربډای ته وويل باداره زه هم نه يمه بې موره اوبې پلاره
سپک مې مه ګڼه زه تاغوندې انسان يم په جوړښت اوپيداوښت کې تاپه شان يم
ته هم ماغوندې لغړيې زېږېدلی اوله ماڅخه دې زيات نه دی کوم غړی
اوس په مال ددې دنيا باندې غره يې داګڼې چې ګڼې ماڅخه کره يې
زه هم تاغوندې اړتيالرم جاموته کوردرملوته ډوډۍ ښاک اوخوړوته
ستا دژوند دارنګيني زماخوله ده ستاژوندون ګوره زمادکارصله ده
دازما دلاس تڼاکې ستاژوندون دی اوداټول زماپه زياربانډې مرهون دی
ستاخواړه دي ټول زما دلاس کرلي اوکالي دې مارېشلي ما اوبدلي
ستادرانه پېټي زما په اوږوباردي دمزدورپه شابارونه دبادار دي
دادرانه ګېډي دغره زماپه شاوي ستادکورداسپين اوسره زما په شاوي
ستاپه کورکاله کې هره ورځ اختردی هربچی دې نازولی بختوردی
ستاکارونه دي ټول ماته راپه غاړه ته زمادزيارګټلوباندې وياړه
ستاماڼۍ زماخولوباندې ودانه کبرجنه کرکه مه کوه له مانه
ستارګی ډېروخوړوباندې خراب وي اوزه وږی يمه ژوندمې اضطراب وي
دسترخوان دې په خوړوباندې رنګين وي ستاپه کورکې توره شپه هم ماسپښين وي
ستاژوندون درنګينيولوی بازاردی مهيادرته هرشی کتارکتاردی
دجاموادخوړودې حساب نشته ستاپه کورکې هرڅه ښه دي خراب نشته
راشه وينه زمادژوند ناخوالې چې خبرشې لږزماله شاړې ځالې
زماتوره کوټه توره لکه شپه ده اوکټوه مې نسکوره سرچپه ده
زماکورکې نه اختراونه برات شته فقط ستادکورشلېدلي مات رامات شته
دې زماخړې جونګړې ته خوراشه زما اوښکو اسوېلوسره اشناشه

په دې خړوخاوروماکره لړتم شه   په دې خړوخړزمادخړحرم شه

دازمادکوربچې سپېره مخونه   نن لړوګوره زمادکورغمونه

نه په پښولري بوټان نه يې څپلۍ شته   نه يې روغې جامې شته نه يې خولۍ شته

يو وړوکی النګی به هم پکې وي   له ژړانه به يې سترګې تکې سرې وي

په پاپلوبه پښې ابله راروان وي   يوشلېدلی خړکميس به يې په ځان وي

دسوکړک به يې په لاس سړه کتره وي   نه به پياز اونه به ګوړه ورسره وي

ستادزوی ښکلوجاموته به پسخېږي   په ماشوم زړه به يې څه څه راتېرېږي

زمازوی هم ستادزوی غوندې ماشوم دی   دبې وزلي پلاربچی دی اومحروم دی

دازمابه څه احساس وي راته وايه   اوبچی به مې څه اندکوي له ورايه

دوسته لاړشه بې وزلانوکره ورشه   دبې وزلوزړونه وسپړه خبرشه

عبدالرحيم مسلم دوست